# رسمی جریده

دامتیاز خاوند : دعدلیې وزارت

دمسؤل مدیر وکیل : عبدالجبار ثابت

پته : رسمی جریده کابل افغانستان

دافغانستان دپادشاهی دولت رسمی خپرونه

فوق العاده گڼه

داشتراك بیه

په‌کابل کښې (۲۲۰) افغانی

به ولایاتو کښې (۲۴۰) افغانی

په باندنیو هیوادو نو کښې (۱۰) امریکایی دالره

دیو گڼې بیه : لس افغانی

(۳) گڼه ۱۳۵۲ ﻫ ش دغویی دمیاشتی لسمه د۱۹۷۳ عیسوی کال داپریل ۳۰ پرله پسې گڼه (۲۳۵)


**دعدلیه جلیله وزارت ته !**

دوزیرانو مجلس په۱۸۲ گڼې فیصله کښې د ۱۳۵۲ کل دوری دمیاشتی د ۲۷ نیټی په عونه‌ه کښې دعدلیـه وزارت د ۱۳۵۲ کال دکب دمیاشتی د ۲۸ نیټی ۵۱۷۶ گڼې عرض پاڼې ته په کتنه دافغان ننداری دآساسنامې په هکله لانـدی مرا تـب تصو یب کړل :

« دافغان ننداری اساسنا مه په نولس مادو کښې دننه چه ددالانشاء مهرپری لگیدلی منظور ده . »

دوزیرانو دعالی مجلس مراتب چه دهمایونی اعلیحضرت دمبارك حضور دمنظوری په‌شرف رسیدلی او ۱۳۵۲ کال دوری دمیاشتی ددیرشمی نیټی ۱۰۷ ـ ۳۸٤ حکم پـه ذریعه عظمی صدارت ته ابلاغ شوی، هغه جلیله وزرت ته خبر درکړ شو ترڅو دهغه سره سم عمل وشی . په درناوی

انجنیر نصرت‌اله‌ملکیار

دمخابراتو وزیر اودوزیرانو دعالی‌مجلس منشی .

**دعدلیه جلیله وزارت ته !**

دوزیرانو مجلس ۱۸۳ گڼـې فیصلی کښې د۱۳۵۲ کـال دو ری دمیاشتی د اوه و یشتمی نیټی پـه غونډه کی د عدلیه وزارت د ۱۳۵۱ کال د سلواغـی د مـیاشتی د ۲۹ نیټی ٤۹٤۷ گڼې عرض پاڼې تـه په کتنه د کانو دسروی او لټولو د مقرراتو په هکله لاندی مراتـب تصویب کړل .

« د کانود سروی او لټولو مقررات په‌شپاړس مادوکی د ننه منـظـور دی . »

دوزیرانو د عالی مجلس مراتب چه د معظم همایونی اعلیحضرت د حضور د منظوری په شرف رسیدلی او د ۱۳۵۲ کال دوری دمیاشتی د دیرشمی‌نیټی د ۱۰۸ ـ ۳۸۵ حکم‌په وسیله عظمی صدارت ته ابلاغ شوی هغه جلیله وزارت ته خبـر درکړشو ترڅو دهغه سره‌سم عمـل وشی . په درناوی .

انجنیر نصرت الـله ملـکیار د

دمخابراتو وزیر او دوزیرانو دعالی‌مجلس منشی .

**بسم الله الرحمن الر حیم**

**دافغان ننداری اساسنامه**

**لمړی فصل**

**عنوان او مرام**

**لمړی ماده ـ**

د افغان ننداری په نوم موسسه ددولت دتصدی حیثیت په در لودلو سره دطلاعاتو او کلتور په وزارت‌کښې دقانون د کمـونو سره سمـه جوړیږی

**دوهمه ماده ـ**

دافغان ننداری مرکـز کابـل ـ افـغـ نستان دی اود هـغی څانگی عندالاقتضا په‌نورو ولایاتو اودهیواد په نورو ځایونو کښې تشکیلیږی .

**دریمه ماده ـ**

دافغان نـنداری اهـداف عبارت ـ ی له :

۱ـ دکابل‌په‌ولایت اود افغانستان‌په نورو ځایونو کښې ددرامونو او په هغو پوری مربوط دنورو هنری‌اوعرفانی نندارو اداره او ښودنه .

۲ـ دعلمی اساساتو سره سـم ددرام تمثیل .

۳ـ دداخلی هنرمندانو د سویی‌دلوړولو اود محیط دسرگرمی لپاره دباندنیو هنری نما یشاتـو دبلـو استخدام اوبلنه .

٤ـ دتمثیل دفن پالنه او د مـلی‌اهدافو پـه خدمت کښې ور نه کـار اخستل .

**به وزارت جلیله عدلیه !**

مجلس وزراء تحت فیصله‌شماره ۱۸۲ درجلسه تاریخی ۲۷ر۱ر۱۳۵۲ با ملاحظه ورقه عرض شماره ۵۱۷٦ مورخ ۲۸ر۱۲ر۱۳۵۱ وزارت عدلیه راجع به اساسنامه افغـان نـنـداری مراتب آتی را تصویب نمود:

« اساسنامـه افـغان نـنـداری بداخل نزده ماده که بمهردارالانشا رسیده منظور است . »

مراتب تصویب مجلس عالی وزرا که به شرف منظور ی حضور مبارك اعلیحضرت معظم همایونی رسیده وبو سیله حـکم شماره ۱۰۷ـ۳۸٤ مورخه ۳۰ر۱ر۱۳۵۲ بـه صـدارت‌عظمی ابلاغ گردیده بـه آن وزارت اطلاع شد تا طبق آن تعمیل گردد. با احترا م

«انجنیر نصرت الله ملکیار »

وزیر مخابرات ومنشی مجلس عالی وزراء

**به وزارت جلیله عدلیه !**

مجلس عالی وزرا تحت فیصله‌شماره ۱۸۳ درجلسه تاریخی ۲۷ر۱ر۱۳۵۲ باملاحظه ورقه عرض شماره ٤۹٤۷ مورخ ۲۹ر۱۱ر ۱۳۵۱ وزارت عدلیه راجع به مقررات سروی و تـفحص معـا دن مراتب اتـی را تصو یب نمود :

مقررات سروی و تفحص معادن بدخال شا نـزده مـاده منـظـور است .

مراتب تصویب مجلس عالی وزراء که‌به شرف منظوری حضور مبارك اعلیحضرت معظم همایونی رسیده و بوسیله حـکم شمره ۱۰۸ ـ ۳۸۵ مورخ ۳۰ ر ۱ر ۱۳۵۲ به صدارت‌عظمی ابلاغ‌گردیده به انوزارت‌جلیله اطلاع داده شد تا طبق آن تعمـل گردد . بااحترام

**محل‌امضاء انجنیر نصرت‌الله‌ملکیار**

**وزیرمخابرات‌ومنشی مجلس‌عالی‌وزرا**

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**اساسنامه افغان ننداری**

**فصل اول**

**عنوان ومرام**

**ماده اول ـ**

مؤسسه‌ای بنام افغان‌ننداری‌باداشتن‌حیثیت تـصدی دولـت در وزارت اطلاعات وکلتور مطابق احکام قانون تصدیهای دولت تاسیس گردیده .

**ماده دوم ـ**

مرکز افغان ننداری کابل افغانستان‌بوده وعندالاقتضا شعبات در سایر ولایـات و نـقـاط کشور تشکیل‌میشود .

**ماده سوم ـ**

اهـد ف افغـان ننداری عـبا رت‌انداز :

۱ـ اداره ونمایش درامها ودیگر نمایشات هنری و عر فانی مربوط به آن در ولایت کابل ودر مناطق دیگر فغانستان .

۲ـ تمثیل درام مطابق اساسهای علمی .

۳ـ استخدام و دعـوت ترو‌پهای نمایشات هندی خارجی به‌افغانستان برای‌بلندبردن سویه هنرمندان‌داخلی‌وسر گرمی محیط .

٤ـ پرورش فن وگذاشتن آن در خدمت اهداف ملی .

## دوهم فصل
### پانگه

**څلورمه ماده ـ**
دافغان ننداری پانگه دمالیې په‌وزارت پوری مربوطه‌ده‌اودهغه‌وزارت تر‌پلټنې لاندې‌قرار‌لري .
د بودجې پول مواد اود مصرف‌واک‌ونې چه پدې اساسنامه کښې ئې یادونه شویده ددولت د تصدیو دقانون دحکمونو تابع گڼل کیږي .

**پنځمه ماده ـ**
دموسسې لمړنی‌پانگه له‌پنځه‌میلیونه‌افغانیو څخه عبارت‌ده
د طلاعاتو او کلتور دوزارت په‌پیشنهاد او دحکومت په منښه دکابل ننداری عمارت د افغان ننداری‌داستفادې لاندې راتلای شي .

**شپږمه ماده :**
دپانگې ډیر ښت او کمښت‌دعامل‌هیئت په پیشنهاد او دعمو می آمر په خو ښه او دمالیې دوزارت په‌منښه‌صورت مومي .

## دریم فصل
### تشکیلات اودندې

**اوومه ماده ـ**
موسسه دلاندې اورگانو لرو نکې‌ده .
۱ـ عمومي‌آمر (داطلاعاتو اوکلتوروزیر) .
۲ـ عامل هیات .
۳ـ مشورتي کمیسیون .

**اتمه ماده ـ**
دعمومي آ مر دندې عبارت‌دي‌له:
۱ـ دموسسې د رئیس او عامل‌هیئت ټاکل اود صالحه مقاماتو څخه ددولت دمامورینو دقانون او مقرراتوسره سم د هغو د منظو ری اخیستل .
۲ـ دموسسې د بودجې او کلنی پروگرام منظوری ، ددې اساسنامې دموادو سره‌سم .
۳ـ دترتیب شوی بیلانس اودعامل هیئت دکلنیو راپورونو منښه‌یا ردول .
۴ـ تر شپږمې رتبې پورې دمامورینو دمنظورې ورکړه .
۵ـ د مو سسې دمهمو چاروڅارنه .
۶ـ دکورنیو او بهرنیو مؤسسو څخه دمرستې اخستلو په هکله دتصمیم نیول .

**نهمه ماده ـ**
عامل هیئت دموسسې درئیس اومعاونینو څخه جوړ شویدی .
عامل‌رئیس دوهمه رتبه اود هغه‌معاونین دریمه رتبه دی .
عامل رئیس دموسسې دچارو دپرمخ بیولو څخه عمومي آمرته‌مسؤل دی .

**لسمه ماده ـ**
دمؤسسې نور ارگانونه مستقیما دعامل رئیس اثر لاندې دی .

**یوولسمه ماده :**
دهیأت دندې په لاندې ډول‌دي :
۱ـ د مؤسسې د مسلکي څانگو تشکیل .
۲ـ د مو سسې د پروگرا مونو تطبیق .
۳ـ د کلنی بیلانس ترتیب اوعمومي آمرته ئې وړاندې کول .
۴ـ دکلنی‌بودجې ترتیب اوعمومي آمرته‌ئې وړاندې کول .
۵ـ د عمومي آمر دامرونو او تصمیمونو اجراکول .
۶ـ دمسلکي‌چاروتنظیم، دننداروانتظام اواداره اود مؤسسې‌دعوایدو څارنه .
۷ـ مشورتي کمیسیون ته‌دتدقیق‌لپاره دبودجې، بیلانس او لاز مو راپورونو وړاندې کول .

## فصل دوم
### سرمایه

**ماده چهارم ـ**
سر مایه افغان ننداری مربوط وزارت مالیه بوده وتحت وارسی آن قرار دارد .
تمام موادبودجه وصلاحیت‌مصرف آن که‌در این اساسنامه ذکر یافته تابع احکام قانون تصدیهای دولت‌شناخته میشود .

**ماده پنجم ـ**
سرمایه ابتدائی‌مؤسسه عبارت‌از پنج ملیون افغانی میباشد .
به پیشنهاد وزارت اطلاعات و کلتور منظوری حکومت عمارت کابل ننداری بمعرض‌استفاده افغان‌ننداری قرار گرفته میتواند .

**ماده ششم ـ**
تزئید و تنقیص سرمایه به‌اساس‌پیشنهاد هیأت عامل وصوابدید امر عمومی ومنظوری وزارت مالیه بعمل اید .

## فصل سوم
### تشکیلات وو ظایف

**ماده هفتم ـ**
مؤ سسه حاوی ارگان اتی‌است :
۱ـ امر عمومی (وزیر اطلاعات‌و کلتور) .
۲ـ هیأت عامل .
۳ـ کمیسیون مشورتی .

**ماده هشتم‌ـ**
وظایف آمر عمومی عبارت انداز :
۱ـ انتخاب رئیس عامل مؤسسه‌واخذ ومنظوری آن از مقامات‌صالحه مطابق به قانون و مقررات مامورین‌دولت .
۲ـ منظوری بودجه و پروگرام‌سالانه موسسه مطابق مواد این اساسنامه .
۳ـ قبول یارد بیلانس مرتبه وراپور های سالانه رئیس عامل .
۴ـ اعطای منظوری مامورین تا رتبه (شش) .
۵ـ مراقبت امور مهم مو سسه
۶ـ اتخاذ تصمیم برای گرفتن‌امداد از موسسات داخلی وخارجی .

**ماده نهم ـ**
هیأت عامل مرکب از رئیس ومعاونین موسسه میباشد رئیس عامل رتبه (۲) ومعاونین آن رتبه (۳) میباشند
رئیس عامل از پیشبرد امور موسسه مطابق این اساسنا مه نزد امرعمومی مسئول میباشد .

**ماده دهم ـ**
سایر ارگانهای‌موسسه مستقیما تحت اثر رئیس قرار دارد.

**ماده یازدهم‌ـ**
وظایف هیات قرار ذیل است :
۱ـ تشکیل‌شعب مسلکی‌موسسه.
۲ـ تطبیق پروگرام‌های موسسه.
۳ـ ترتیب بیلانس سالانه وتقدیم‌آن به امرعمومی .
۴ـ ترتیب بودجه سالانه وتقدیم‌آن‌به امر عمومی .
۵ـ اجرای او مرو تصامیم امرعمومی .
۶ـ تنظیم‌امورمسلکی‌انتظام‌واداره نمایشات ومرا قبت عواید موسسه .
۷ـ تقدیم بودجه وبیلانس وراپورهای لازمه جهت تدقیق به کمسیون مشورتی .

۸ـ د هنرمندانو لپاره دلايحو او تعليماتنامو ترتيب کول .

۹ـ د سندونو په استثناد اودلزوم په‌وخت کښې دنوروضروریاتو لپاره پولی راکړه ورکړه اودمصرف دسندونو مجرائی .

**دولسمه ماده ـ**

مشورتو کميسيون له هغو دریغړو څخه جوړ شويدی چه ديو کال لپاره دعمومی آمر له خوا ټاکل کيږی .

**ديارلسمه ماده ـ**

د مشورتی کميسيون دندی په لاندی ډول دی :

۱ـ دکال‌په‌جريان کښې دموسسې دحسابی چارو اوشتمنی څارنه .

۲ـ دکلنی بلانس تدقيق اود هغه په‌هکله دنظريی ابراز .

۳ـ داداری او حسابی اصلاحاتو په هکله مطالعه او عامل هيئت ته دنظريی ابراز .

٤ـ دهغو مسايلو په په شاوخوا کښې دنظريی وړاندی کول اومطالعه چه‌دعمومی آمرپه خوښه ورته‌وړاندی کيږی .

**څوارلسمه ماده ـ**

د کميسيون دندی افتخاری دی‌وخت په وخت دعمومی آمر يا عمل رئيس دتصميم په موجب دموسسې په مرکز کښې ټولنه کوی .

**څلورم فصل**

**ړنگيدل او تصفيه**

**پنځه‌لسمه ماده ـ**

دافغان ننداری د عمومی آمر په پيشنهاد اود عظمی صدارت په‌تائيد دلاندنيو عواملو نه دهريوه په‌موجب ړنگيدلای شی .

۱ـ دورسپارل شوو دندو دپرمخ بيولو عدم امکان، نظر په هغه‌عواملو چه عمومی آمرته تثبيت شوی وی .

۲ـ دمماثلو موسسو سره‌يووالی‌او پيوستون .

**شپاړسمه ماده ـ**

دافغان ننداری تصفيه له ړنگيدو وروسته داطلاعاتو او کلتور دوزارت له‌خوا تر اجرا لاندی نيول کيږی .

**اولسمه ماده ـ**

دموسسې شتمنی دپورونو اودتصفيی دمصارفو له‌ورکړی وروسته دماليی وزارت ته انتقال ورکول کيږی .

**پنځم فصل**

**متفرق مواد**

**اتلسمه ماده ـ**

دمحاسبی ډول او حسابی وراسی دمضاعف حسابی سيستم په آساس ده .

**نولسمه ماده ـ**

دغه اساسنامه په رسمی جريده کښې له خپريدو وروسته نافذه ده. ددی اساسنامی په‌نفاذ سره دکابل‌دهنری تياتر د ۱۳٤٤ کال‌دمرغومی دمياشتی د ۱۵ نيټی نشر شوی‌اساسنامه ملغی ده .

**بسم‌الله الرحمن الرحيم**

**دکانو دتفحص اوسروی مقررات:**

**لومړی ماده ـ**

دغه مقررات دآساسی قانون د څلورنوی‌يمی‌مادی‌اوداساسی تشکيلاتو دقانون دديرشمی مادی دلمړی فقری دحکم په اساس دپطرولو په شمول دکانو دسروی او لټولو د اجازی ورکړه تنظيموی .

**دوهمه ماده ـ**

دکانو سروی دفوتو جيو لوجی له‌لاری دمعدنی موادو په تجسس يا لټونه ، د ځمکی د مخ په جيولوژيك عملياتو، په جيوشيمی عملياتو ياد نورو فنی روشونو په گټه اخستلو کی شامله‌ده چه‌په دی منظور پکار لوړيږی .

۸ـ ترتيب‌لوايح وتعليمات نامه‌ها برای‌هنرمندان

۹ـ داد وستد پولی به استناد‌اسناد وعندالزوم به ساير ضرورت ومجرائی اسناد مصرف .

**ماده دوازدهم ـ**

کمسيون مشورتی مرکب از سه‌عضو است که ازطرف امر عمومی برای يکسال تعين ميگردد .

**ماده سيزدهم ـ**

وظايف کميسيون مشورتی قرارذيل است .

۱ ـ برسی امور حسابی ودارائی‌موسسه در جريان سال .

۲ـ تدقيق‌وکنترول بيلانس‌سالانه‌و براز نظريه درباره آن .

۳ـ مطالعه‌در مورداصلاحات‌اداری وحسابی وابراز نظريه به هيات عامل .

٤ـ مطالعه‌وابراز نظريه دراطراف‌مسائليکه حسب صوابديد امرعمومی به‌آن رويت داده شود .

**ماده چهاردهم ـ**

وظايف کميسيون افتخری بوده‌وقتاًفوقتاً بموجب‌تصميم آمرعمومی‌يا رئيس عامل درمرکز موسسه اجتماع مينمايد

**فصل چهارم**

**انحلال وتصفيه**

**ماده پانزدهم ـ**

افغان ننداری تحت يکی ازعوامل‌ذيل به پيشنهاد آمر عمومی، تائيد صدارت عظمی منحل شده ميتواند .

۱ـ در صورت عدم‌امکان پيشبردوظايف محوله نظر به‌عوامليکه‌نزدامر عمومی تثبيت گردد .

۲ـ الحاق ويا اتحاد باموسسات‌مماثل .

**ماده شانزدهم ـ**

تصفيه افغان‌ننداری‌بعد ازانحلال‌ازطرف وزارت اطلاعات وکلتور تحت اجراگرفته ميشود .

**ماده هفدهم ـ**

دارائی موسسه بعد از تاديه‌ديون ومصارف تصفيه به وزارت ماليه انتقال داده ميشود .

**فصل پنجم**

**مواد متفرق**

**ماده هجدهم ـ**

طرز محاسبه ووراسی حسابی‌موسسه به اساس سيستم حسابی مضاعف است .

**ماده نزدهم ـ**

اين اساسنامه‌بعد ازنشردرجريده‌رسمی نافذاست بانفاذاين اساسنامه اساسنامه تياتر هنری‌کابل منتشره ۱۵ جدی ۱۳٤٤ ملغی است .

**بسم‌الله الرحمن الرحيم**

**مقررات سروی وتفحص معادن**

**ماده اول**

اين مقررات به اساس حکم ماده‌نود وچارم قانون اساسی وفقره اول ماده سی ام قانون تشکيلات‌اساسی‌اعطای اجازه نامه مربوط به سروی وتفحص معادن را بشمول معادن‌پترول تنظيم ميکند .

**ماده دوم**

سروی معادن شامل تجسس ياجستجوی مواد معدنی از طريق فوتو جيولوجی . عمليات جيواوجيك روی زمين . عمليات جيوشيمی‌يا استفاده ازسايرروش های فنی است که به اين منظور بکار برده ميشود .

لټونه «تفحص» له برمه کاری، څاه ایستلو، جر ایستلو د پټرولو په شمول د معدنی ذخیرو د اندازې د تعین او د هغو د تجارتی ارزښت په منظور د ځمکی پر مخ یا د ځمکی لاندی نورو جیولوجیکی عملیاتو څخه عبارت ده .

**دریمه ماده —**

حکومت کولای شی چه د کانو د سروی یا تفحص یا د هغو دواړو اجازه اشخاصو ته ورکړی .

شخص په دی مقصد عبارت دی له داخلی یا خارجی حقیقی یا حکمی شخصو څخه د هغی د داخلی یا خارجی موسسی په شمول چه د تجارت د قانون د حکمونو سره سم په افغانستان کښی د تجارتی فعالیت حق ولری .

**څلورمه ماده —**

د سروی یا تفحص ور کړه د غوښتنلیک د مندرجو شرطونو له مطالعی وروسته د کانو او صنایعو د وزارت په پیشنهاد صورت مومی د سروی یا تفحص د اعظمی حد تاکل په مربوطی موافقت نامی کښی د ننه حتمی دی .

**پنځمه ماده —**

سروی کوونکی او لټوونکی په اجازه نامه کښی د شاملی ساحی د کټی د امتیاز په لاس ته راوړلو کښی، په مساوی شرطونو کښی د قدامت د حق لرونکی دی

**شپږمه ماده —**

په هغه حالت کښی چه حکومت د شوری د موافقی د نه حاصلو او یا نورو قانونی موانعو په علت ونشی کړی چه د کانو د ایستلو امتیاز لټوونکی «تفحص کوونکی» ته ورکړی مکلف دی چه د هغه مصارف جبران کاندی . که چیری د تفحص د کار د ختم او د امتیاز د ورکړی د منفی نتیجی د معلومیدلو تر منځ تر شپږو میاشتو زیاته موده تیره شی. مناسبه ربح هم په مصارفو زیا تیږی .

د مصارفو د اندازې د تثبیت په باره کښی د دواړو خواو موافقه، او د موافقی په نشتوالی کښی د پانګی اچولو د قانون د نولسمی مادی حکم رعایت کیږی .

د «لټوونکی (تفحص کوونکی) د مصارفو جبران یواځی په هغه حالت کښی صورت مومی چه تفحصاتی فعالیت د موافقت نامی د شرایطو سره سم د تجارتی ارزښت لرونکی یوی معدنی ذخیری په کشف منجر شی غیر له دینه، یواځی د تفحص کوونکی حق الاجاره بیرته ورکول کیږی .

**اومه ماده —**

په هغه حالت کښی چه شخص د دی مقرراتو د پنځمی مادی د حکم په رعایت، د کټی اخستلو د امتیاز له غوښتنی انصراف وکړی، د ده دغه عمل د شپږمی مادی د مندرجو حقوقو څخه هم انصراف گڼل کیږی .

**اتمه ماده —**

که چیری د داوطلبی یا علت په اثر د استخراج امتیاز په بل چا پوری تعلق ونیسی، د امتیاز خاوند د هغه د مصارفو په جبران مکلف دی. په دی صورت کښی د مصارفو جبران د امتیاز څخه د کټی اخستلو نه د مخه ورکول کیږی، مگر دا چه دواړه خواوی بل ډول موافقه وکړی .

د مصارفو د اندازې تثبیت د دی مقرراتو د شپږمی مادی د حکم سره سم صورت مومی .

**نهمه ماده :**

د سروی او تفحص اجازه نامه د دوه کاله لپاره ورکول کیږی دغه موده دوه ځلی او هر ځلی د دوه کاله لپاره اوږدیدای شی .

د اجازه نامی په لمړیو دوه کلونو کښی د ننه، حق الاجاره نه غوښتل کیږی د تمدید د دوری حق الاجاره د موافقیت نامی سره سم ټاکل کیږی او اخستل کیږی .

تفحص عبارت از برمه کاری ـ چاه کنی ـ جر کنی ـ تونل کشی و سایر عملیات جیولوجیکی روی یا زیر زمین به مقصد تعیین اندازه ذخایر معدنی بشمول پترول و ارزش تجارتی آن .

**ماده سوم ـ**

حکومت میتواند اجازه نامه سروی یا تفحص معادن یا هردوی آنرا به اشخاص اعطاء کند .شخص به مقصد این حکم عبارت است از اشخاص حقیقی یا حکمی داخلی یا خارجی بشمول یک موسسه دولتی داخلی یا خارجی که مطابق به احکام قانون تجارت دارای حق فعالیت تجارتی در افغانستان باشد.

**ماده چارم ـ**

اعطای اجازه نامه سروی یا تفحص بعد مطالعه شرایط مندرج درخواست به پیشنهاد وزارت معادن وصنایع صورت میگیرد .

تعیین حد اعظمی ساحه سروی یا تفحص بداخل موافقت نامه مربوط حتمی است .

**ماده پنجم ـ**

سروی کننده و تفحص کننده برای اخذ امتیاز بهره برداری ساحه شامل اجازه نامه در شرایط مساوی دارای حق قدامت میباشد .

**ماده ششم ـ**

در حالتیکه بعلت عدم حصول موافقت شوری یا دیگر مانع قانونی حکومت نتواند امتیاز استخراج معادن را به تفحص کننده اعطا نماید مکلف است مصارف او را جبران کند هرگاه بین ختم کار تفحص و معلوم شدن نتیجه منفی اعطای امتیاز مدت بیش از ششماه بگذرد ربح مناسبی نیز بر مصارف مذکور علاوه میگردد .

در مورد تثبیت اندازه مصارف موافقت طرفین و در عدم آن حکم ماده نزدهم قانون سرمایه گذاری خصوصی خارجی و داخلی افغانستان رعایت میشود .

جبران مصارف تفحص کننده تنها در حالتی صورت میگیرد که فعالیت تفحصاتی به کشف یک ذخیره معدنی حایز ارزش تجارتی مطابق شرایط موافقت نامه منجر شود در غیر آن تنها حق الاجاره تفحص کننده مسترد میشود .

**ماده هفتم —**

در حالتی که شخص با رعایت حکم ماده پنجم این مقررات از مطالبه امتیاز بهره برداری انصراف نماید این عمل او انصراف از حقوق مندرج ماده ششم این مقررات نیز شناخته میشود .

**ماده هشتم ـ**

هرگاه به اثر داوطلبی یا علت دیگر امتیاز استخراج به شخص دیگر تعلق گیرد صاحب امتیاز به جبران مصارف وی مکلف میباشد در اینصورت جبران مصارف قبل از استفاده امتیاز به تفحص کننده پرداخته میشود مگر اینکه طرفین به نحو دیگر موافقت نمایند . تثبیت اندازه مصارف وفق حکم ماده ششم این مقررات صورت میگیرد.

**نهمه ماده ـ**

اجازه نامه سروی و تفحص برای دوسال اعطا میشود . این مدت دوبار وهربار برای دو سال تمدید شده می تواند .

در ظرف دوسال اول اجازه نامه ـ حق الاجاره مطالبه نمی شود . حق الاجاره دوره های تمدید مطابق موافقت نامه تعیین و تحصیل میگردد .

**لسمه ماده**

داجازه نامې څښتن په هر تقویمي کال کښې د کال له پای نه شپیته ورځې دمخه دخپلو فعالیتونو راپور دنقشو، ترسیمونو او جیولوجیکي مقطعاتو په شمول چه دجیولوجیکي تحقیقاتو دنتیجو لرونکي دي دکانو او صنایعو وزارت ته وړاندې کوي.

داجازه نامې دڅښتن دغوښتنې په صورت کښې دراپور محتویات تر هغه وخته چه داجازه نامې په ساحه کښې او تفحص دحقوق لرونکي وي نه برسیره کیږي.

**یوولسمه ماده ـ**

داجازه نامې څښتن حق نلري چه له هغه څه نه پرته چه په اجازه نامه کښې درج دي فعالیتونو ته اقدام وکړي.

**دولسمه ماده ـ**

ددواړو خواو نور حقوق چه په دې مقرراتو کښې نه دي تصریح شوي د ځانګړي موافقت نامې په متن کښې چه ددواړو خواو ترمنځ عقد کیږي، د دولت دقوانینو داحکامو په حدود کښې دننه تنظیمیږي.

**دیارلسمه ماده ـ**

سروې کوونکي او لټوونکي د افغانستان ددولت دقوانینو او مقرراتو په رعایت مکلف دي. که چیرې شخص دموافقیت نامې دمندرجو شرطونو یاد دې مقرراتو له حکمونو څخه سرغړوي، یادا سې اعمال سرته ورسوي چه دهیواد دلوړو ګټو مخالف دي، ددولت د نورو قوانینو دحکمونو په رعایت، دموافقیت نامې پرفسخ برسیره دمصارفو دجبران له حقوقو هم محرومیږي.

**څوارلسمه ماده ـ**

حکومت مکلف دی چه اشخاصو ته دسروې او تفحص د اجازه نامې دورکړي په وخت کښې دهغوی دتجارتي شهرت او مالي استطاعت په باره کښې ډاډ حاصل کړي

**پنځلسمه ماده ـ**

ددواړو خواو حقوق او وجایب دسروې یا تفحص دموافقت نامې په واسطه ددې مقرراتو داحکامو سره سم ددولت دنورو قوانینو په رعایت سره تنظیمیږي همدارنګه په موافقت نامې کې لاندې مطالب هم تفریح کیږي.

۱ـ دغوښتنې لیك دثبت محصول حق الاجاره او نور مالي مکلفیتو نه.

۲ـ د سروې دانجام او په اغیزه ناك ډول دبین المللي علمي معیارونو سره سم دتفحص په باره کښې تعهد.

۳ـ د سروې او تفحصاتي زیان لرونکي خطرناکو او روغتیا ته د مضرو عملیاتو څخه ځان ژغورنه.

۴ـ په موافقت نامه کښې دشاملې ساحې دطبیعي محیط ساتنه.

۵ـ دموافقیت نامې دساحې دحدودو ټاکل او په هغې پورې مربوطو نقشو ترتیب.

**شپاړسمه ماده ـ**

دغه مقررات د رسمي جریده کښې له خپریدو وروسته نافذیږي.

## دجهاني پستي داتحادیې اساسنامه

۱۷ـ دمحتوي کڅوړې یا بستې داتیکت په مخ باید تل دمشا یعني (فوایدا وي) پانه کښې د (F) توری په واضح ډول ذکر شوي وي او دغه راز کولای شي دهغه په مخ د پستو د مربوطو کڅوړو شمیر ولیکي.

۱۸ـ د قرمز اتیکت دپنځم جزء سره سم یوازې هغه وخت پکاریږي چه د سپارښتي مرسولاتو محتوي کڅوړه له مشایعتي (فویداوي) پانې سره وي حتی که دغه فویداوي منفي وي.

۱۹ـ دهیڅ یوې کڅوړې وزن باید له ۳۰ کیلو ګرامه زیاته نه وي.

**ماده دهم ـ**

دارنده اجازه نامه در هر سال تقویمی شصت روز قبل از ختم سال راپور فعالیت های خود را که حاوی نتایج تحقیقات جیولوجیکی بشمول نقشه ها. ترسیمات و مقطعات جیولوجیکی باشد بوزارت معادن وصنایع تقدیم میکند. در صورت تفحص رادر ساحه اجازه نامه دارا راپور تا زمانیکه حقوق سروی وتفحص رادر ساحه اجازه نامه دارا است افشاء نمیگردد.

**ماده یازدهم ـ**

دارنده اجازه نامه حق ندارد به فعالیت های غیر از انچه در موافقت نامه درج گردیده اقدام کند.

**ماده دوازدهم**

سایر حقوق ووجایب طرفین که درین مقررات تصریح نگردیده درمتن موافقت نامه جداگانه ایکه بین طرفین عقد میشود در حدود احکام قوانین دولت تنظیم میشود.

**ماده سیزدهم ـ**

سروی کننده و تفحص کننده مکلف به رعایت قوانین ومقررات دولت افغانستان میباشد. درصورتیکه شخص از شرایط مندرج موافقت نامه یا احکام این مقررات تخلف نماید یا اعمالی را انجام دهد که مخالف مصالح علیای مملکت باشد با رعایت احکام سایر قوانین دولت علاوه بر فسخ موافقت نامه از حقوق جبران مصارف نیز محروم میشود.

**ماده چاردهم ـ**

حکومت مکلف است هنگام اعطای اجازه سروی و تفحص به اشخاص در باره شهرت تجارتی واستطاعت مالی آنها اطمینان حاصل کند.

**ماده پانزدهم ـ**

حقوق ووجایب طرفین توسط موافقت نامه سروی یا تفحص مطابق به احکام این مقررات با رعایت سایر قوانین دولت تنظیم میشود همچنان در موافقت نامه مطالب آتی نیز تصریح میگردد.

۱ـ محصول ثبت در خواست ـ حق الاجاره و دیگر مکلفیت های مالی.

۲ـ تعهد در باره انجام سروی وتفحص به نحو موثر و مطابق معیار های علمی بین المللی.

۳ـ اجتناب از عملیات سروی و تفحصاتی زیان آور ـ خطرناك او مضر صحت.

۴ـ حمایت محیط طبیعی ساحه شامل موافقت نامه.

۵ـ تعیین حدود ساحه موافقت نامه و ترتیب نقشه های متعلق به آن.

**ماده شانزدهم ـ**

این مقررات بعد از نشر درجریده رسمی نافذ میگردد.

## اساسنامهٔ اتحاد پستی جهانی

۱۷ـ روی اتیکت خریطه یا پسته محتوی ورق مشا یعنی فویداوی همیشه بایستی حرف (F) بطور واضح ذکر شده باشد و همچنین میتوان روی آن تعداد خریطه های مربوطه به پسته را ذکر کرد.

۱۸ـ بر طبق جز ۵ اتیکت قرمز فقط موقعتی بکار برده میشود که خریطه محتوی مرسولات سفارشی ویاورق مشایعتی فویداوی باشد حتی اگر این فویداوی منفی باشد.

۱۹ـ وزن هیچ خریطه ای نباید از ۳۰ کیلو گرام تجاوز نماید.

په پښتو او دری ژبو خپرېږی

رسمی جریده

در هرپانزده روز یکمرتبه نشرمیشود

۲۰ مبادله دایری ترهغه ځایه چه ممکنه وی پستو ته دپستی اجناسو په ابعادو (دپستی یاکڅوړوسره) دهغه تاکلی دفتر په مقصد چه هغه ته رسیږی پخپلو پستو کښی ځای کړی .

۲۱ـ ټول مطبوعات دیوه اخستونکی له ادرس سره اودیوی مرجع دپاره کیدای شی په یوه یاڅو مخصوصو کڅوړو کښی واچوی په قانونی اتیکتونو علاوه پدغه حال کښی د (M) توری دهغو په مخ لیکل کیږی. له دغو ټول کڅوړو سره یو مخصوص اتیکت چه داستو نکی پواسطه برابریږی اود مرسولاتو داخستونکی په باب لازم اطلاعات تری زیاتیږی .

دغه مخصوصی کڅوړی کولای شی سپارښتی مرسولات ولری دغه داخلی نورومرسولاتو نه جلا اینبودل مخصوص لست کی ثبت اودپستی د سپارښتو نه په (C48) ـوکیږی.

دهغو مرسولاتو دمحتوی کڅوړو اتیکت چه گمرکی کنترول پکښی شاملوی جبراء بایدپه (۱۱۷) ماده کی په لومړی جزء کښی د اتکل شوی شین اتیکت له نوعی څخه وی .

## ۱۵۷ ماده

## دپستو سپارل

۱ـ دذینفع دایرو تر منځ دمخصوصو موافقو د مواردو نه پرته ددوو متقابلو دفترونو ترمنځ دپستی تحویلول دسپارلو دپاڼی په وسیله یاد (ضمیمه)(C48) نمونی سره سم Bordereau de Finvuison تحویلولو سره سرته رسیږی. دغه پاڼه په دوونسخو کښی تدوینیږی . لومړی نسخه اخستونکی دفتر او دوهمه نسخه سپارونکی دفتر ته تخصیص شوی. اخستونکی دفتر د دوهمی نسخی په مخ درسید دتحویل پاڼه ورکوی

۲ـ په هغه صورت کښی دمتقابلو دوو دفترو ترمینځ پسته دحمل و نقل دیوه سرویس په وسیله وسپارل شی دتحویل پاڼه په دریو نسخو کښی تدوین اودریمه نسخه دغه سرویس ته سپارل کیږی په دغه حال کښی اتکل شویده چه دحمل ونقل سرویس ددوهمی نسخی له مخه رسید ورکړی . او داستونکی تحویل دفتر ددریمی نسخی له مخه

۳ـ ځینی د ایری دخپلو داخلی تشکیلاتو په علت کولای شی غوښتنه وکړی چه دپستی مراسلاتو وپارسلونو دپاره د (C48) پاڼی په جلاتوګه تدوین شی .

٤ـ کله چه دمتقابلو ددودفترو ترمنځ پستی دیو بحری سرویس له خوا تحویل شی د مبداء مبادلی دفتر کولای شی څلورمی نسخه هم له دغی پاڼی نه تنظیم کړی چه مرجع دفتر دتصدیق نه وروسته هغه ته بیرته واستوی په دغه حالت کښی دریمه اوڅلرمه نسخه دپستی سره استول کیږی .

٥ـ یوازی دقرمز اتیکت لرونکی بستی اوکڅوړی چه باید دتحویلولو په وخت کښی دبسته بندی اونورو شرایطو له لحاظه تر پوره غور لاندی ونیول شی په څرگند اوواضح ډول د (C48) سپارلو د پاڼی په مخ ثبتیږی . دهغو کڅوړو اوبستو په باب چه دهغو غور کول احتیاری دی یو ډول ئی یوځای ددغی پاڼی په مخ ثبت اویوځای هم تحویلیږی ذی علاقه دی اداری کولای شی موافقه وکړی چه یوازی دقرمز اتیکت لرونکی کڅوړی اوبستی دسپارلو دپاڼی په مخ ثبت شی .

٦ـ پستی باید روغی رمټی تحویل کړی شی. دغه راز نشی کولای د لاس وهلو په عذر دیوی پستی له منلو ډډه وکړی په هغه صورت کی چه یوه پسته په یوبد حالت دلاری په اوږدو کښی یو دفتر ته تحویل شی دغه دفتر بایدپه همغه حالت پسته نوی وتړی .

دپستی بی ترتیبی باید درسیدلی پاڼی په ضمن کښی دپستی مبداء اومرجع دفترو ته اود لزوم په صورت کښی دلاری په اوږدو کښی هغه وروستی دفتر ته چه پسته ئی په نامنظم ډول استولی اعلام شی . هغه دفتر چه

۲۰ـ دفاتر مبادله تاانجا که ممکن است میتوانند پسته ها با ابعاد کوچك بسته یا خریطه به مقصد یك دفتر معین راکه برای آنها میرسد پسته های خود نشان بگنجانند .

۲۱ـ کلیه مطبوعات بادرس یك گیرنده وبرای مرجع را میتوان دریك یاچند خریطه مخصوص قرارداده علاوه براتیکت های قانونی در این حال حرف M روی آنها نوشته میشود باین گونه خریطه ها یك اتیکت مخصوص که وسیله فرستنده تهیه میشود ودارای اطلاعات لازم در مورد گیرنده مرسولات است اضافه میگردد این خریطه های مخصوص حاوی مرسولات سفارشی باشند این سفارش ها روی یك لست مخصوص ثبت و مجزا ازسایر مرسولات داخلی بسته قرار داده میشوند اتیکت خریطه های محتوی های مرسولاتیکه مشمول کنترول گمرکی می باشند اجبارا بایستی ازنوع اتیکت سبز پیشبینی شده در جزء ماده ۱۱۷ باشد .

## ماده ۱۵۷

## تسلیم پسته ها

۱ـ غیر از موارد توافق مخصوص ادارات ذینفع تحویل پسته بین دو دفتر متقابل وسیله ورق تسلیم باتحویل Bordereau de Finvuison طبق نمونه ضمیمه ا نجام میگیرد .

این ورق در دو نسخه اول بدفتر دریافت کننده و نسخه دوم بد فتر تسلیم کننده اختصاص دارد د فتر دریافت کننده روی نسخه دوم ورق تحویل رسید میدهد .

۲ـ در صورتیکه تسلیم پسته بین دودفتر متقابل وسیله یك سرویس حمل ونقل پیش بینی شده است که سرویس حمل ونقل روی نسخه دوم رسید بدهد و دفتر تحویل گیرنده روی نسخه سوم .

۳ـ بعضی ازادارات بعلت تشکیلات داخلی خود میتوانند درخواست کنند که ورق های (C48) برای مراسلات و پارسلات پستی بطور مجزا تدوین شوند .

٤ـ وقتیکه تحویل پسته ها بین دودفتر متقابل بتوسط یك سرویس بحری انجام گیرد دفتر مبادله میتواند نسخه چهارمی هم از ورق مذکور تنظیم نماید تادفتر مرجع پس از تصدیق برای او بر گشت دهد در این حالت نسخه سوم وچهارم همراه پسته فرستاده میشوند .

٥ـ فقط خریطه ها وبسته های دارای اتیکت قرمز که بایستی در موقع تحویل تحت بررسی کامل ازلحاظ بسته بندی ودیگرشرایط قرار گیرند بطور صریح وواضح روی ورق تسلیم (C48) ثبت می شوند در مورد سایر خریطه ها و بسته هائیکه بر رسی آنها اختیاری است نوع آن بطور یك جزروی ورق نامبرده ثبت ویکجا نیز تحویل میگردد معهذا ادارات ذ ینفع میتوانند توافق نمایند که فقط خریطه هاوبسته های دارای اتیکت قرمز روی ورق تسلیم ثبت شوند .

٦ـ پسته های بایستی با وضع کاملا سالم تحویل شوند معهذ نمی توان بعد از دست خورد گی ودستبرد از قبول یك پسته خود داری کرد درصورتیکه یك پسته باوضع بدی بیك دفتر عرض راه تحویل گردد این دفتر بایستی بهمان وضع بسته بندی مجلدی از پسته بنماید بی تر تیبی های پسته بایستی ضمن ورق رسیدگی بد فتر مبداء ومرجع پسته ودر صورت لزوم به آخرین دفتر عرض راه ایکه پسته را بطو

مطبعه دولتی

**محترم لوستونکی دی دجریدی لـه‌لوستلو ړومبی لاندی خطاوی اصلاح کاندی**

۱ــ لمړ مخ: د ۱۳۵۲ کال نه دمخه‌دی (د) زیات شی .

۲ــ دلمړی مادی په لمړی سطـر کښې دی دتصدی نه وروسته (د) زیات شی .

۳ــ دلمړی مادی په دوهم سطر کی‌دی د(کمونو )پرځای (حکمو نـو ) ولوستل شی .

٤ــ دوهم مخ :دپنځمی مادی پــه‌لمړی سطر کښې دی د(موسی )په عوض( موسسی )ولوستل شی .

٥ــ دریم‌مخ: دیوولسمی‌مادی‌په‌نهمه‌فقره‌کی دی«استثناد»پرځای «استناد» ولوستل شی .

٦ــ دریم مخ: ددولسمی مادی په‌لمړی کرښه کښې دی د(مشورتو) پرځای (مشورتی) ولوستل شی .

۷ــ دریم مخ: دخوار لسمی مادی‌به لمړی کرښه کښې دی‌د(عمـل ) پرځای (عامل) ولوستل شی .

۸ــ دریم مخ: داتلسمی مادی په‌لمړی کرښه کښې دی د(وراسی )پر ځای وارسی ) ولو ستل شی .

۹ــ څلورم مخ: ددریمی مادی په‌څلورمه کرښه کښې د ( هغی) نـه وروسته یو (د) زیات دی .

۱۰ــ څلورم مخ: دشپږم مادی په‌دولسم خط‌کی‌دی د (تجارتی)کلمی‌نه وروسته یوا الف زیات شی .

۱۱ــ څلورم مخ: داتمی ما دی په‌لومړی کرښه کښې دی د(علت نه دمخه (بل) زیات شی .

۱۲ــ څلورم مخ: دلسمی‌مادی‌ددوهمی‌فقری په‌دوهم خط کښې‌دی دتفحص نه دمخه د(او) په عوض (د) زیات‌شی .

۱۳ــ پنجم مخ: دیو ولسمی مادی‌په وروستی کرښه دی د(اقدام‌کړی) پر ځای (اقدام وکړی)ولوستل شی.

۱٤ــ پنځم‌مخ: ددولسمی مـا دی‌په دریمه کرښه کښې دی د(حدود) پرځای حدودو ولو ستل شی .

۱٥ــ پنځم‌مخ: ددیارلسی مادی په‌دوهم سطر کښې دی‌د (موافقیت)پر ځای «موافقت» ولیکل شی .

۱٦ــ پنځم‌مخ: ددیارلسمی مادی‌په‌څلورم سطر کی دی د «مخالف»دی‌پر ځای (مخالف وی) ولیکل شی.

۱۷ــ پنځم مخ : دپنځـه لسمـی‌مادی‌په دریم‌سطر کښې‌دی د(تفریح) په عوض (تصریح ) ولیکل شی .

---

**خوانندگان محترم قبل‌از مطا لعه‌جریده اغلاط ذیل را اصلاح نمایند .**

(۱) درصفحه‌اول‌ــ سطر ۱۸عوض‌بدخلل (بداخل )خوا نده شود .

«۲»صفحـه دوم اســا سنا مـــه‌افغان ننداری ماده نهم سطـر اول عوض مباشد (میباشد خوانــــده )شود .

صفحه دوم‌ــ اساسنا مه افغا ن‌ننداری ماده دهم شماره (٥) عوض ومرو (اوامر )خوانده شو د.

(۳)صفحه پنجم ــاسا سنا مـه‌سروی تفحص معدن ماده پانزدهـم شماره ۳ عوض او(و) خوانده شود.

(٤) صحفه سوم‌ــشماره ۸سطر‌اول عوض بری(برای) خوانده شود.

(٥) صحفه سوم‌ــ ماده سیزدهم‌شماره ۲ عوض سلانه‌وبرز( سالانه وابراز )خوانده شود .

(٦)صفحه سوم ــفصل‌چهارم ماده پانزدهم سطراول‌عوض‌فغان ننداری ( افغان‌نـنداری) خـوا نـده شو د

- (۷) صفحه سوم فصل چارم‌ماده‌پانزدهم شماره ۲عوض الحق الحاق خوانده شود .

(۸) صفحه چهارم ماده «٥» سطردوم عوض درای (دارای ) خـوانده شود.